# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**31سرطان _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه


د مهاجرینو چارو وزارت او AWCPO موسسي ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو -----------------------1

ورکشاپ دو روزه برای عودت کننده گان در ولایت جوزجان دایرشد-----------------------------------------------1

د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول-----------------------------------------------2

ناظران: یونان دسترسی مهاجران به غذا را محدود کرده‌است -----------------------------------------------------3

بلجیم کي تر خیمو لاندې افغانان له دولت څخه سرپناه غواړي-------------------------------------------------5

د کرواسیا نهه اوسیدونکي د کډوالو د قاچاق په تور نیول شوي-----------------------------------------------8

سرپرست وزارت صنعت و تجارت، مشکلات تاجران افغان در بندر کراچی را با نماینده خاص پاکستان برای افغانستان شریک کرد.........................................................................................................9

یوې جرمنی لیکوالي د پښتو څخه جرمني ژبې ته لسګونه کتابونه ژباړلي ----------------------------------------10

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت او AWCPO موسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو

د وزارت ویب سایت



د څه باندې ۳۵۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د مهاجرینو چارو وزارت اود افغان ښځو د همغږۍ او پراختیا موسسې ترمنځ د همکاریو هوکړه لیک لاسلیک شو.
د لاسلیک شوي هوکړه لیک مالي لګښت ۳۵۹ میلیونه، ۹۸۲ زره او ۶۰۵ افغانۍ دی، چې له مخې به یې د کابل ښار په ۵ مې او ۲۱ مې ناحیې کې ۷ زره او ۵۱۰ کورنیو سره د خوراکي توکو په برخه کې مرستې ترسره کوي.
یاد هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د حقوقي سلاکار او د مسلکي معینیت سرپرست مولوي محمود الحق احدي او د یادې موسسې د معاون ترمنځ لاسلیک شو.
احدي د یاد هوکړه لیک د لاسلیک پرمهال د وزارت او یادې موسسې ترمنځ پر لازمې همغږۍ، پروخت د راپور ورکولو، سروې او د مرستو دوېش په رونتیا ټینګار وکړ.

## ورکشاپ دو روزه برای عودت کننده گان در ولایت جوزجان دایرشد

ویب سایت وزارت



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook: *https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**ریاست امورمهاجرین و عودت کننده گان ولایت جوزجان از تدویر ورکشاپ دو روزه با همکاری موسسه خیریه و انکشافی افغان برای عودت کننده گان رد مرزی بتاریخ 28 سرطان خبرداد.**
**ورکشاپ یادشده تحت عنوان حقوق بشر در پرتو اسلام برای 18 تن عودت کننده رد مرزی ذکور و اناث به طور جدا گانه دایر و مزایای حقوق بشر در پرتو دین مقدس اسلام توسط استادان توضیح شد.**

## د ایران څخه له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت



د ایران څخه دوه زره او ۲۹۴ تنه افغان مهاجر د چنګابښ په ۲۸مه هېواد ته راستانه شول.
د هرات ولایت د اسلام قلعه د سرحدي آمر په خبره د یادو راستنېدونکو له ډلې۳۵۱ تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول، چې ورسره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وشوې.

## ناظران: یونان دسترسی مهاجران به غذا را محدود کرده‌است

مهاجرنیوز




**سازمان ناظر حقوق بشر ایرو-مد به روز سه‌شنبه گفت که دولت یونان دسترسی بسیاری از مهاجران را به مواد غذایی قطع کرده‌است. این سازمان همچنان هشدار داده‌است که در پی این اقدام دولت یونان، بحران خطرناک غذایی در جزیره لسبوس رخ خواهد داد.**

**نگرانی ناظران حقوق بشر از عدم دسترسی پناهجویان به غذا و دیگر نیازهای اولیه زمانی شدت گرفت که دولت یونان در ۱۷ می سال جاری اعلام کرد که در لسبوس و برخی دیگر از مراکز مهاجران، صرف به کسانی که به دنبال پناهندگی هستند، غذا داده خواهد شد.**

**مقامات یونانی همچنان می‌گویند، برخی از مهاجران آسیب‌پذیر از جمله پناهجویانی که درخواست پناهندگی یا اقامت شان رد شده، مستحق غذا نخواهند شد.**

**در همین حال، ناظر حقوق بشر ایرو-مد می‌گوید که با توجه به وضعیت غیرمترقبهٔ پیش آمده، مهاجران زیادی در معرض خطر ناامنی غذایی قرار دارند.**

**گفته می‌شود که بسیاری از مهاجران در یونان، خارج از سیستم پناهندگی زندگی می‌کنند. بخش زیادی از آن‌ها درخواست پناهندگی یا اقامت شان رد شده‌است و حق کار کردن را هم ندارند. این پناهجویان با وضع محدودیت غذایی، دچار بلاتکلیفی و گرسنگی خواهند شد.**

**در بیانیهٔ سازمان ناظر حقوق بشر ایرو-مد آمده است: «از آن‌جا که پناهجویان رد شده نمی‌توانند از کمک‌های غذایی بهرمند شوند و بدون مدرک اجازهٔ کار منظم هم ندارند، بحران گرسنگی کلید خورده است«.**

بیشتر بخوانید :راه‌اندازی عملیات سراسری؛ پولیس بلغاریا صدها مهاجر و پانزده قاچاقبر را دستگیر کرد

همچنان در بخشی از این بیانیه گفته شده که با توجه به وضعیت پیش آمده، بیم آن می‌رود که برخی از مهاجران به دلیل عدم دسترسی به غذا و نداشتن اجازهٔ کار، طعمهٔ گروه‌های جنایت‌کار شوند.

ناظران حقو بشر می‌گویند که این نخستین بار نیست که مهاجران در یونان دچار بحران غذایی می‌شوند. در سال ۲۰۲۲ نیز ۶۰درصد از ساکنان کمپ‌های مهاجران با ناامنی غذایی مواجه بودند.

میشل پوگلیس، پژوهشگر حقوقی سازمان ایرو-مد می‌گوید: «مشکل این نیست که غذای کافی وجود ندارد، بل مشکل اصلی این است که دولت یونان آگاهانه پناهجویان را دسته‌بندی کرده و برخی‌ها را از امکانات موجود محروم می‌کند«.

## بلجیم کې تر خیمو لاندې افغانان له دولت څخه سرپناه غواړي

مهاجرنیوز



شفیع الله او حمیدالله هغه دوه تنه افغانان دي چې د بلجیم د پلازمینې بروکسل ښار تر دنګو ودانیو لاندې په یوه خیمه کې شپې او ورځې سبا کوي. دوی د ځښناک اوبه، حمام او د ژوند نورو لومړنیو آسانتیاوو ته لاسرسی نه لري او د موټرو غړونه یې خوب نارامه کړی. کډوال نیوز د دغو افغانانو د لیدو لپاره بلجیم ته ورغلی.

له تیر څه باندې یو کال راهیسې په بلجیم د کډوالو د شمیر د زیاتیدو له امله دغه هیواد د سرپناه له بحران سره مخامخ شوی. لاهم ګڼ شمیر کډوال او پناه غوښتونکي تر شنه آسمان لاندې شپې سبا کوي. د دغو کډوالو ډیره برخه افغانان دي چې یو شمیر یې لاهم د بروکسل په ښار کې تر خیمو لاندې ژوند کوي.

په بلجیم کې هغه کډوال چې په نورو هیوادونو کې یې د لومړي ځل لپاره د پناه غوښتنې دوسیه ثبت کړې وي او د دوبلین په پروسه کې وي، د سرپناه او نورو ټولنیزو مرستو مستحق نه پیژندل کیږي او باید له یو کال څخه ډیره موده انتظار وکړي تر څو د پناه غوښتنه یې و منل شي.



Website: *https://morr.gov.af*

Twitter: *https://twitter.com/MoRRAfg*

Facebook*: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**د ننګرهار ولایت دوه تنه افغان ځوانان شفیع الله او حمیدالله له ورته برخلیک سره مخامخ دي. دوې چې د لومړي ځل لپاره په نورو اروپايي هیوادونو کې د پناه غوښتنه کړې او نه ده منل شوې، ۱۰ میاشتې کیږي چې بلجیم ته راغلي تر څو د پناه غوښتنه وکړي.**

**د بلجیم حکومت د دوې د پناه غوښتنه ځکه نه مني چې د لومړي ځل لپاره یي په بل اروپايي هیواد کې یي د پناه غوښتنه ثبت کړې او د دوبلین په پروسه کې شامل شوي.**



شفیع الله او حمیدالله په بروکسل کې د خپلې خیمې مخامخ ناست دي. تصویر: کډوال نیوز.۵ جولای ۲۰۲۳

**شفیع الله چې د خپلې خیمې مخې ته ولاړ و، کډوال نیوز ته وویل:« ۷ میاشتې کیږي سرپناه نه لرم او له کمپ څخه يي ایستلی یم. دلته د څښاک او حمام لپاره اوبه نه لرو او د ځان وینځلو لپاره جومات ته ځو. ځینې ملګري مو ناروغان دي.» شفیع الله وایي چې د موټرو غږونه يي خوب هم نارامه کړی.**

**» د اتریش ګوتې مې درلودې نو ځکه يي دغه هیواد ته اخراج کړم«**

**د بروکسل په دغه سیمه کې د څو تنو افغانانو په ګډون یو شمیر نورو کډوالو هم خپلې خیمې ترلي او د سره صلیب نړیواله ټوله له دوې سره روغتیايي مرستې کوي.**

**حمیدالله چې د ننګرهار ولایت څخه بلجیم ته تللی، له دې وړاندې يي به جرمني او اتریش کې د پناه غوښتنه ثبت کړې وه خو د پناه غوښتنه يي نه وه منل شوې نو ځکه بلجیم ته تللی. دغه افغان ځوان هم ۱۰ میاشتې کیږي چې دوسیه يي د دوبلین په توګه پیژندل شوې نو ځکه سرپناه نه لري او همدارنګه د کار حق هم ورته نه دی ورکړل شوی.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

**نوموړی وايي چې د اتریش ګوتې یې درلودې نو ځکه دغه هیواد ته اخراج شوی و خو بیرته بلجیم ته راغلی.**

**حمیدالله د سرپناه د نه لرلو او د پناه غوښتنې په اړه سخت اندېښمن دی او وايي »:دلته بې سرنوشته پراته یو او تر څو چې د دوبلین موده مې پای ته نه وي رسیدلې نو همداسې بې برخلیکه به اوسم«.**



**د ننګرهار ولایت اوسیدونکی حمیدالله له تیرو ۱۰ میاشتو راهیسې په بروکسل کې سرپناه نه لری.** تصویر: کډوال نیوز.۵ جولای ۲۰۲۳

**دغه افغان ځوان په سره صلیب کې د سرپناه لپاره نوم لیکنه کړې او هیله مند دی چې لنډ مهاله سرپناه و مومي. هغه په دې اړه وايي:« سره صلیب کې مې د سرپناه لپاره نوم لیکنه کړې او ښايي راته د یوې میاشتې لپاره ځای راکړي خو یو میاشت وروسته بیا ایستل کیږم او اړ یم چې بیا دلته خپلې خیمې ته راشم. بیا نوم لیکنه کوم تر څو ځای راکړي او دا سلسله همداسې دوام لري«.**

**د سرپناه بحران**

**په تیرو شاوخوا دوو کلونو کې بلجیم ته د کډوالو شمیر تر پخوا څو برابره ډیر شوی چې د دغو کډوالو ډیره برخه افغانان دي. د کډوالو ډیریدل دغه هیواد د سرپناه له بحران سره مخامخ کړی.**

**څلور میاشتې وړاندې د فبروری په میاشت کې سلګونه کډوال د بروکسل په ښار کې تر شنه اسمان لاندې د فیداسیل د کډوالی ادارې او پتې شاتو مخې ته یې خیمې ترلې وې چې دغه حالت د ګنو بشري ادارو غبرګونونه راو پارول.**

**نور ولولئ :د کډوالو شمېر له ډېرېدو سره بلجیم د سرپناه له کمښت سره مخ دی**

**که څه هم چې حکومت د ۴۵۰۰ نویو سرپناه ځایونو د جوړلو امر کړی خو مرستندویه اداري وايي چې لاهم زرګونه خلک سرپناه نه لري.**

**په بروکسل کې د هب بشردوستانه مرکز یو له هغو بنسټونو دی چې له کډوالو سره د سرپناه تر څنګ په نورو ټولنیزو برخو کې مرسته کوي. هره ورځ د افغانانو په ګډون لسګونه کډوال دغه مرکز ته د مرستو لپاره ورځي.**

**د دغه مرکز همغږې کوونکې فیروز لاژلي وايي په بلجیم کې د کډوالو لپاره د سرپناه د کمښت په اړه د اندیښنې په څرګندولو سره وايي چې په ټولیز ډول ۷ زره خلک په بروکسل کې سرپناه نه لري.**

**میرمن لاژلي وايي چې دوه زره کډوال چې ډیره برخه یې افغانان دي،د فیداسیل په لیست کې شامل دي چې د سرپناه لپاره انتظار باسي.**

**نوموړې وايي چې په ژمي کې بنايي د سرپناه ځینې مرکزونه و تړل شي. هغه حکومت ته وړاندیز کوي چې د سرپناه لپاره باید نوي ځایونه جوړ او په دې برخه کې د اوږد مهال حل لارو باندې فکر وشي.**

**په بلجیم کې د ګڼو افغانانو لپاره د سرپناه نه شتون یواځینی ستونزه نه ده بلکه د حکومت لخوا د ګڼو افغانانو د پناه غوښتنې ردول بله ستونزه ده چې دوی یې اندیښمن کړي. په بروکسل کې ګڼو افغانانو څو ځلې لاریون کړی او له حکومت څخه یې د پناه غوښتنه کړې.**

## د کرواسیا نهه اوسیدونکي د کډوالو د قاچاق په تور نیول شوي

مهاجرنیوز




**د کراواسیا پولیسو د جمعې په ورځ خبر ورکړ چې د دغه هیواد نهه تنه اوسیدونکي یې نیولي چې له ګاونډي هیواد سربیا څخه یې کډوال اروپايي هیوادونو ته قاچاق کول.**

اسوشیتید پرس خبري آژانس د پولیسو له قوله لیکلي چې دغه شکمن کسان په سربیا کې د یو شمیر نورو کسانو سره یو ځای د ډینیوب سیند ته د پیسو په بدل کې په ناقانونه ډول لیږدول. ډینیوب هغه سیمه ده چې کرواسیا له سربیا هیواد سره نښلوي.

د پولیسو په بیانیه کې راغلي چې نیول شوي کسان ټول د کرواسیا اوسیدونکي دي.

نور ولولئ :د سربیا پولیس له بیلابیلو ښارونو څخه له ۶۰۰ ډیر کډوال نیولي

کرواسیا او سربیا د بالکان پر لار هغه هیوادونو دي چې د افغانانو په ګډون د یو شمیر نورو هیوادونو کډوال له دغو لارو ځانونه لویدیځې اروپا ته رسوي.

په کرواسیا کې له کډوالو سره د پولیسو زور زیاتی هغه څه دي چې له کلونو راهسې د بشري حقونو مدافع بنسټونه په اړه اندیښنه نه لري او د دغه هیواد پولیس په دې تورنوي چې کډوال له وهلو او ډبولو وروسته خپلو سرحدي سیمو څخه شړي.

د رسمي شمیرو له مخې تیرکال له ۱۲۰ زرو څخه ډیر کډوال، په سربیا کې ثبت شوي وو چې ډیری دغه کډوال د افغانستان، سوریې، پاکستان، مراکش او هند اصلي اوسیدونکي وو.

## سرپرست وزارت صنعت و تجارت، مشکلات تاجران افغان در بندر کراچی را با نماینده خاص پاکستان برای افغانستان شریک کرد

آژانس اطلاعاتی باختر



**نورالدین عزیزی، سرپرست وزارت صنعت و تجارت در دیدار با آصف درانی نماینده خاص پاکستان برای افغانستان، پیرامون توسعه روابط تجارتی و ترانزیتی با آن کشور بحث کرد.**

**به گزارش آژانس باختر؛ در خبرنامه‌یی که امروز از سوی وزارت صنعت و تجارت منتشر شده، آمده است که در این دیدار نورالدین عزیزی، مشکلات تاجران افغان در بندر کراچی را با نماینده خاص پاکستان برای افغانستان شریک کرد.**

**هم‌چنان دوطرف روی تسهیلات ترانزیتی و تجارتی، ۲۴ساعته شدن بنادر و توسعه همکاری‌های گمرکی گفتگو کردند.**

**گفته شده است که در این دیدار دو جانب با اشاره به همکاری‌ها و نشست‌های کابل و اسلام آباد؛ بر فیصله‌ها و توافقات قبلی و هم‌چنان تقویت بیشتر همکاری‌ها تاکید کرده‌اند.**

## يوې جرمنۍ ليکوالې د پښتو څخه جرمني ژبې ته لسګونه کتابونه ژباړلي

د امريکا غږ




د مېرمن هايسلر لخوا ژباړل شوي څو کتابونه

**جرمنۍ ليکوالې انګرېډ ووِن هايسلر د خان عبدالغفار خان او غني خان د کتابونو په ګډون د پښتنو مشهورو ليکوالانو او شاعرانو لږ تر لږه ۲۰ کتابونه جرمني ژبې ته ژباړلي دي.**

**نوموړې د جرمني په بن ښار کې "د افغانستان معلوماتي مرکز" بنسټ سره په همکارۍ دا کار کړی دی. ياد بنسټ د دې مېرمنې د هڅو د ستايني لپاره مراسم نيولي او د افغانستان د علومو اکاډمۍ په استازيتوب يې ستاينليک ورکړی دی.**

**هايسلر چې پخپله د عدم تشدد فلسفې لاروې ده، وايي خوشحاله ده چې په افغانستان او پښتنو کې يې هم د پاچا خان په څېر د عدم تشدد فلسفې يو مبارز وموند.**

نوموړي وايي: "زه د افغانستان او پاچا خان په اړه ډېره نه پوهېدم خو کله چې دلته له افغانانو او پښتنو سره اشنا شوم نو ما د پاچا خان د عدم تشدد د مبارزې او خپلو خلکو ته د هغه د ښه فکر په اړه واورېدل او زه دې برخه کې لاس په کار شوم".

مېرمن هایسلر له پښتو لنډیو او پټې خزانې سربېره، د رحمان بابا د شعرونو دیوان، د پښتو متلونه او ګل پاچا الفت غوره نثرونه هم جرمني ژبې ته ژباړلي دي.

هغه وايي، ښه احساس لري چې له پښتنو سره اشنا شوې او په مرسته یې دومره کتابونه جرمني ژبې ته ژباړلي دي.

نوموړې زیاتوي: "د پاچا خان په کتابونو کې د عدم تشدد، سولې، زده کړو او په اسلام کې د منځلارۍ په اړه ډېر څه وو. همدارنګه د ګل پاچا الفت په کتابونو کې ډېرې خبرې وې چې پرته له جنګ او تشدده د ټولنې د پرمختګ لپاره په کارېږي. پښتو لنډۍ زما لپاره جالبې وې".

انګرېډ وون هایسلر لومړنۍ بهرنۍ میرمن ده چې د پښتو ادبیاتو دومره کتابونه یې جرمني ژبې ته ژباړلي دي. هغه وايي، په انګلیسي او نورو ژبو باندې د پښتنو لیکوالانو او شاعرانو د ژباړل شویو کتابونو په مرسته یې دا کار کړی دی.